
پوهندوی آصف بهاند

# محمدانور وفا سمندر

## د مینې، رڼا او غږ استازی



**د نړۍ تر ټولو قیمتي او د قدر وړ ډالۍ:**

**د وفا سمندر په هر پوست، هره خبره، هره جمله او هر توري کې وفا، رڼا، غږ، هیلې او د ژوند ځپې د یوې ډالۍ په توګه مخاطبینو ته وړاندې کېږي.؛ په هغې ټولنه کې چې خوځلوبښت کاله تاوتریخوالي حکومت کړی وي، وهل وژل، وینې تویول او دې ته ورته شیان عادي او منل شوې خبرې ګرځول شوې وي؛ د وفا سمندر پاسنۍ ډالۍ به د نړۍ تر ټولو قیمتي او د قدر وړ ډالۍ نه وي؟**

آصف بهاند

په دې مقاله کې د اوسنی زماني پر داسي يو ليکوال باندې بحث کوم چې د يو شمېر مطرح اثارو خاند دی، د جلا سبک او ځانګړي طرز تفکر درلودونکی دی، له هېڅ سياسي ګوند يا تنظيم سره تړاو نه لري، لاره يې د معمول خلاف له ډېرو بېله ده او د بيان يا ويلو طرز يې د ځينو له نظره مبهم او غامض برېښي. زموږ د زمانې دا ليکوال محمدانور وفا سمندر نومېږي. ترهر څه مخکې د ده پېژندنه:




د ښاغلي وفا سمندر بيوګرافي ما په ويکيپيديا کې پيدا نه کړه، بيا راپه ياد شوه چې ما کوم وخت د ډوکتور لطيف ياد له فيسبوکپاڼې راخوندي کړې وه. کومه بيوګرافي چې يادصاحب خپره کړې وه، هغه د وفا سمندر له خولې ليکل شوې او د هغې متن دا دی:

«پلار ويل: «هلکه! غنم لو کې دنيا ته راغلې»؛ خو آبو مور به راته ويل: «نه، ته مي په مني-طلايي موسم- کې دنيا ته راوړې!» خو زه چې څه د ځان په اړه خپل واک ګنم، د تلې مېاشتې وروستی نيمه شپه وه او زه په دنيا کې را را ښکاره شوم.

له خياله چې د ذهن دنيا ته راواوړم، نو په پېژندپاڼه کې يې راته ۱۳۴۱ لمريز (۱۹۶۲) زېږديز کال د زېږون کال ليکلی دی.

آه، اوس نه ماشومتوب شته، او نه زه غواړم ماشوم شم؛ ځکه ماشومتوب تللې زمانه ده او تللې مړه ده؛ او يوه «اوس» ژوندۍ! تېره د تاريخ په پاڼو کې ښخه ده. او هلته ګورم چې پلار په کال ۱۹۶۹ کې د مېدان درې مرکزي ليسي لومړي ټولګې کې معلم ته په لاس ورکړم چې اصلاح مي کړي!

ابتدايه مي د مېدان کوټه‌عاشرو په لومړي ښوونځي کې سرته ورسوله او وروسته مي د پلار مدير محمد اکبر خان د زړه په زور، د ميدان مرکزي ليسه کې ځان له يوه ټولګي بل ټولګي ته کش کړ، خو انقلاب چې د خلکو لپاره سور اور شو؛ نو مېدان مي له کورنۍ سره خوشې کړ او دولسم ټولګی مي په ۱۳۵۹ کال کې د کابل غازي ليسي (چې هغه مهال شيرشاه سوري ليسه نومول شوې وه) په ښه درجه ختم کړ او د عمر د کموالي له امله، د مکلفيت عسکرۍ له دامه را خلاص پاتې شوم او د کانکور ازموينې موقع مې له لاسه ورنکړه او مخامخ خپل لومړي انتخاب (ژورناليزم څانګې) ته کامياب او د ۱۳۶۳ کال په ژمي ور نه فارغ شوم.

ها مهال له يوې خوا د بل بدلولو او له مقابل لوري د هغوی د اصلاح کولو سرو او شنو توپانونو خاکباد جوړ کړی ؤ او ما هم په نوي ځواني ايديالوجيک مزي پالل، څو د «ځان» په بغاوت واوښتم او د ايډيالوجۍ جغ مي مات او ځان مونډني او ځانپالني ته را وزګار شوم.

زما لومړنۍ نوکري او د لیکوالۍ کیسه:

د ۱۳۶۴ کال د چنګاښ په مباشت کې د مرکزي راديو تلویزیون کې د خبرځانګې راپورتر په نامه حکومتي نوکرۍ ته ورولوېدم. دلته و چې قلم زما زده شو. دلته و چې خبریال او بیا لیکوال راووتم. دا لا څېرې! اوه- اته کاله کېدل چې زه د لیکوالۍ له تومنې ډک ګرځېدم.

مومن خان او شيرينو زه ملا کړم،

کال ۱۳۵۴ و. زه د مېدان د چاریکې د خزاندار عیسی خان د برجورې کلا پيتاوي کې له «شریف» او «داود» او... سره په توشلو او «شتو» وم، چې د «محمد عزیز» بنجاره له جړنګانو، بنګړیو، زرتارو او نکروزو ډک خر مخ په کلي را تاو شو.

نور یاد ته نه راځي. زما لاس کې د «آدمخان او درخانۍ» او که «مومن خان او شیرینو» وړوکی کتابګوټی و. زه تر وچ لمر لاندې، په سپېرو خاورو کې تر هغو ناست او پروت وم، چې چا را غږ کړ: «انوره! جګ شه چې «آبا» دې راغی!»

په دې پسې بله پېښه وشوه، بله وشوه...ما «دختر یتیم»، «دختر همسایه»، «جنایت بشر»...فارسي پولیسي ناولونه په خپله ماته ګوډه فاړسو لوستل او لا نور له محمد عزیز بنجاره تر لاسه کول.

داسې ؤ، چې زما مخه مکتب ته شوې وه، خو دا وړمه مې تازه تجربه کوله، چې د ولس بدلولو لپاره سره او شنه او تور اورلن انقلابونه له لارې را ورسېدل. نو زه چې تازه د حروفو په هندسه کې لارې ته شوی وم، د ایډیالوژۍ وبا ووهلم. لس دولس کلونه وشول چې ما ځان په دې دوزخ کې پردی وپېژاند او را ووتم، چې د کلام په سمندر کې یو سپین غسل وکړم. خو لاره او آواره او د غره څوکې دومره د «بل» بدلولو «اصلاح کولو» فکر پړسولې او رنګ کړې وې، چې ښایسته وخت تېر شو، ترڅو اوسنی «زه» مې زوکړه وکړي.

سمندر د لمر لوېدو پر مهال:

زه همدغه یم. د «دوه زره نوي یم کال» له کیسه ییزو طنزونو سره د لیکوالانو په لیکه پسې راشین شوم. «زرګره او زر لاسی کوډګر»، «بنیادمان»، «په کور یو لیونی» دري پښتو ناولونه او «غږ چینه» ادبي- عرفاني نثرونو ټولګه او «غږ او رڼا زما وزرې» هم زه وم، چې خپل اصيل «زه» مې لټاوه. دې سره فارسي ناول «دوازده بال» او «چشمه اوا» هم چاپ شول.

تېر کال «بل بدلولو دوزخ»، «ځان موندلو برزخ» «ټول سفر ؤ د ځان دننه» ناول او «رڼا کوچنیان» اوس هم تاسو په زړوونو شریفو انسان ورونو ته د «میني کولو جنت» ډالۍ په لاس کې لرم. دغه کتاب د هغو بحثونو د پای بحثونه دي، چې یو کال دمخه د بل بدلولو دوزخ په نامه پیل شوي ؤ.

زما لپاره مینه، محبت، لورینه،

دا کتابونه له چاپ راوتي، خو زه تازه خپل د زېږون «ختیځ» ته رسېدلی یم. خدای خبر څومره کاغذونه به کمیس او پرتوګ پرځان زاړه کړم، ترڅو خپل اصيل برخلیک وځلوم.

خو که محمد عزیز بنجاره نه وای، زه به دغه پوړۍ کې هم نه وم. یاد یې دومره را په کې شین پاتې دی، چې د لیکنې پيل مې پر هغه و. ۱۹۸۲ کال و. د پوهنتون له زده کړو سره مې یوه د سلو پاڼو کتابچه د محمد عزیز په باب ناول ته بېله کړه. کتابچه ډکه شوه، خو نه چاپ شوې او نه له ما سره شته!

زه او زما نسل چې د «بل» بدلولو انقلابي جنګ منګولې شو، راشنه شو، نو داسې مو شپه په پردي کور شوه. زه پېښور کې پروت، له بي بي سي راډیو سره د ماشومانو لپاره په ډرامه لیکلو او پروګرام

جوړولو شوم. د تخت سرې چې بدل را بدل شول، زه هم د کليو پراختيا وزارت او څو نورو ادارو سره د رسنيز سلاکار او ويندوی په توګه په کار شوم، تر څو سيمه‌ييزو اورګانونو اداري ته د فرهنګي او ژبنيو رسنيو چارو لپاره را ولوېدم؛ او تر دې دمه لګيا يم چې په کتاب ليکلو سره ټول ځان ننداري ته وړاندې کړم.

چاپ شوي آثار:

۱ ـ «دوه زره نوي يم کال» مجموعهٔ داستانواره های طنزی، سال 1370، وزارت اطلاعات و فرهنگ،

۲ ـ «زرګره او زرلاسی کوډګر» رمان، سال 1379، پیشاور،

۳ ـ « بنیادمان» رمان، سال 1380، پیشاور،

۴ ـ « په کور یو لیونی» رمان، سال 1388، مقام ولایت میدان وردگ،

۵ ـ «د غږ چینه» مجموعهٔ 100قطعه نثر ادبی-عرفانی،

۶ ـ «چشمهٔ آوا» مجموعهٔ 100 قطعه نثر ادبی-عرفانی (به زبان دری)،

۷ ـ «غږ او رڼا زما وزرې» قطعه های نثر شاعرانه ادبی-عرفانی (به زبان پشتو) مطبه جهان دانش،

۸ ـ «دوازده بال» رمان ( به زبان دری) از سوی انتشارات انستیتوت مطالعات افغانستان،

۹ ـ «جادوگر هزاردست (رمان فارسي) دوبار ۱)انتشارات آرون، تهران. ایران و ۲)انتشارات تاک. کابل

۱۰ ـ « د غږ او رڼا لاروی» مجموعه مقاله، نقد و نظر در مورد اثار و سبک کار ادبی وفا سمندر، مطبعه مسلکي افغان،

۱۱ ـ «ټول سفر ؤ د ځان دننه» ناول، مطبعه و انتشارات عازم،

۱۲ ـ «د رڼا کوجنیان» ترجمه «کودکان نور»، اثر فرا روانشناسی، حادثات نزدیک به مرگ مطبعه و انتشارات عازم،

۱۳ ـ «د بل بدلولو دوزخ» مطبعه و انتشارات عازم،

۱۴ ـ «د ځان موندلو برزخ» مطبعه ملالی، کندهار،

۱۵ ـ «د مینې کولو جنت» انتشارات کتابخانه نور.

چاپ ته چمتو آثار:

۱ ـ «هر یو خپل سقراط دی» رمان (به زبان پشتو)،

۲ ـ «د مینې اکادمی باغ»،

۳ ـ «د حال ابدیت»،

۴ ـ «د درک شیبې»،

۵ ـ «دعا د ځان سپارل دي»،

۶ ــ «غړ د کلمو روح»،

۷ ــ «داستان های معنوی» ویرایش، تحشیه و ترتیب، مجموعهٔ در حدود 100داستان از سراسر جهان،

۸ ــ «مانیزې کیسې» ترجمه و ویرایش، مجموعهٔ داستان های واقعی از سراسر جهان،

دغه رنګه وفا سمندر څلور کاله بي بي سي راديو (زموږ نړۍ زموږ راتلونکې) تعلمي پروژې لپاره څلور کاله روزنيزې ډرامې ليکلي دي. په راوروسته کلونو کې يې د دويچ وله راديو پښتو برخې لپاره شپږ اووه سلسله يې ډرامې ليکلې، چې د يادې راډيو له څپو جوړې او خپرې شوي دي. سربېره پر دې د وفا سمندر ليکنې او ځنې کتابونه، د Kabul nath.de) و (Keegday) و ( Nawid ruz) او نورو ويبپاڼو کې هم خپاره شوي او خپرېږي.

ترلاسه کړې جايزې:

۱ ــ د طنزونو ټولګه، د اطلاعات او کلتور وزارت، ۱۹۸۰ زېږدي کال،

۲ ــ د «دوه زره نوی یم کال» کیسه ییزه طنزونو ټولګه، د ۱۹۹۳ زېږدي کال دريمه جايزه،

۳ ــ سرمقاله د اطلاعات او کلتور وزارت د 1994، زېږدي کال دويمه جايزه،

۴ ــ «زرګره او زرلاسی کوډګر» ناول، د 2004 زېږديز کال دويمه جايزه،

۵ ــ «بنيادمان» ناول، د 2003 زېږديز کال څلورمه جايزه،

۶ ــ د «دوازده بال» رومان، د 2011 زېږديز کال لومړۍ جايزه،

۷ ــ «په کور يو ليونی» ناول، د 2012 زېږديز کال لومړۍ جايزه،

۸ ــ د پامير جريدې لخوا د کال جايزه،

۹ ــ د ۱۳۷۴ لمريز لېږديز کال د مقالې ليکلو جايزه،

۱۰ ــ د ژورنالستانو اتحاديې بېلابېلې کلنۍ جايزه،

۱۱ ــ د ۲۰۰۸ زېږديز کال د ستر لوست د پروګرام جايزه او ځنې نورې ادبي جايزې.»

د دې بيوګرافۍ د لا بشپړېدو په خاطر د ياد صاحب لپاره په کامنټ کې انور وفا سمندر د خپلو اثارو د لست د بشپړيدو په پار يو يادداشت هم ليکلی و، زه بيا پوه شوم چې د هغه په ځواب کې بی ياد صاحب څه ليکلي وي؛ خو د دې کرښو د ليکلو په وخت کې ښاغلي وفا سمندر د خپلو ټولو اثارو لست ما ته راولېږه چې دا يې متن دی:

«د محمد انور وفا سمندر چاپ شوي آثار:

آثار چاپ شده:

1. «دوه زره نوي يم کال» مجموعهٔ داستانوارههای طنزی، سال 1370، وزارت اطلاعات و فرهنگ
2. « زرګره او زرلاسی کوډګر» رمان، سال 1379، پيشاور
3. « بنيادمان» رمان، سال 1380، پيشاور
4. « په کور يو ليونی» رمان، سال 1388، مقام ولايت ميدان وردګ
5. « د غړ چينه» مجموعهٔ 100قطعه نثر ادبی-عرفانی
6. «چشمهٔ آوا» مجموعهٔ 100 قطعه نثر ادبی-عرفانی (به زبان دری)

7. «غږ او رڼا زما وزرې» قطعه های نثر شاعرانه ادبی-عرفانی (به زبان پشتو) مطبه جهان دانش
8. «دوازده بال» رمان ( به زبان دری) از سوی انتشارات انستیتوت مطالعان افغانستان-اخن
9. جادوگر هزاردست (رمان فارسي) دوبار ۱)انتشارات آرون، تهران. ایران و ۲)انتشارات تاک. کابل
10. «د غږ او رڼا لاروی» مجموعه مقاله، نقد و نظر در مورد اثار و سبک کار ادبی وفا سمندر، مطبعه مسلکي افغان.
11. «ټول سفر ؤ د ځان دننه» ناول، مطبعه و انتشارات عازم،
12. «د رڼا کوجنیان» ترجمه «کودکان نور»، اثر فرا روانشناسی، حادثات نزدیک به مرگ مطبعه و انتشارات عازم،
13. «د بل بدلولو دوزخ» مطبعه و انتشارات عازم،
14. «د ځان موندلو برزخ» مطبعه ملالی، کندهار،
15. «د مینې کولو جنت» انتشارات کتابخانه نور،
16. دردونکې خاطرې، عازم انتشارات؛
17. خاطرات دردانگیز، انتشارات عازم
18. «هر یو خپل سقراط دی» رمان (به زبان پشتو)
19. «د مینې اکادمی باغ؛
20. د حال ابدیت؛
21. د درک شېبې؛
22. دعا د ځان سپارل دي؛
23. غږ د کلمو روح

آثار آماده چاپ:

1. تېرژوندونونه، خوبونه او د روح سفرونه، ژباړه
2. « داستان‌های معنوی» ویرایش، تحشیه و ترتیب، مجموعهٔ در حدود 100داستان از سراسر جهان
3. « مانیزې کیسې» ترجمه و ویرایش، مجموعهٔ داستان‌های واقعی از سراسر جهان

تر کار لاندې:

1. بی‌پدر. ناول
2. زړه خو تر هرڅه ځوانه مینه. ناول او نور

دا خبره وفا سمندر په خپله ماته ویلې ده چې: د ۲۰۲۱ ام کال په اگست کې د نویو واکدارانو په راتگ سره ده خپل ډېر یادداښتونه سوځولي دي. دا چې په هغو سوځول شوو پاڼو کې به څه وو، یوازې به وفا سمندر ته مالوم وي.

ما (آصف بهاند) د محمدانور وفاسمندر ټول اثار له نظره نه دي تېر کړي چې پر شکل او محتوی باندې یې بحث وکړم او یا یې د ژبې او تفهیم پر روانی او پېچلتیا باندې وغږېږم. د دې مقالې د بیا سموني او کتني په وخت کې، زما په غوښتنه، وفا سمندر د فرهنگي ملگرتوب او مهربانی له مخې خپل څو کتابونه راولېږل چې نومونه یې دا دي:

ـ د بل بدلولو دوزخ،

ـ د ځان موندلو برزخ،

ـ د مینې کولو جنت،

ـ غږ او رڼا زما وزَرې،

ـ د غږ چینه

دا کتابونه مې له نظره تېر کړل او د سمندر د اثارو ځینې برخې چې ما د نورو قلموالو په مقالو کې لوستي او یا مې په ټولنیزه میډیا کې د ده ورځنیو پوستونو په ترڅ لیدلي دي، له دې ټولو نه ما دا پایله ترلاسه کړه چې سمندر د مینې، رڼا او غړ استازی او مبلغ دی، **د وفاسمندر په آثار او خبرو کې زما لپاره مهم او د پاملرنې وړ ټکی دا دی چې دی پر ټولنه باندې د حاکمې کرکې، دوښمنۍ او بدبینۍ پر ځای د مینې او تفاهم وړاندیز کوي، دا په لوړو غږ سره وایي چې یو د بل په چارو کې لاسوهنه مه کوئ.**

ما په دې مقاله کې لومړی د ده بیوګرافي راواخیسته، بیا به د ده پر هغو نظریاتو لږ تم شم چې دی موږ ته د مینې، رڼا او غړ مبلغ او استازی معرفي کوي، وروسته تر هغه به د ځینو هغو قلموالو لنډ نظریات هم راواخلم چې د ده د فکر او ویلو د طرز پر څرنګوالي باندې یې خپل نظریات څرګند کړي دي او په پای به یې د کلام څو بېلګې هم راوخلم:

د جګړې، لوټ تالان، وینو تولو، له ژوند څخه محرومولو، رنګارنګ تاوتریخوالو... په ګرم بازار کې یو څوک پیدا شي چې د دې ټولو شیانو پرضد ودرېږي، یوازې د مینې ډال ورسره وي، د وفا شعار یې پر تندي لیکلی وي، د انسانیت پر لاره روان وي او د یوه غړ پلټونکی وي، تاسو به څه څوک ورته غوره کړئ؟
زه خو د دې لارې یو سرسپارلی لاروی پېژنم چې هغه محمدانور وفاسمندر نومېږي.

انور وفاسمندر ته هرڅه ښکلي دي او د مینې په رنګ رنګېدلي. د خپلو خبرو، لیکنو او پوستونو په وسیله غواړي چې خلک د مینې او وفا بڼ ته وروبولي او له جګړې او ټولنیزو ناوړو اړیکو نه رازېږېدلې کرکه چې د خلکو پر عیني ژوندانه او ذهنونو باندې حاکمه ده، ورنه وتورې، د کرکې توره پرده ورنه لرې او د مینې په سمندر کې یې ولمبوي.

د چیزفهمه خلکو د ژوند په دایره کې ذهنیت داسې دی چې: که خدای د څلورګامونو په اندازه هم د ژوند کولو وخت درکړي، باید په مینه کې تېر کړای شي، نه په کرکه کې. د وفا سمندر د فکر او باور انګړ ډېر پراخ، په ښکلاوو ډک او له انساني مینې مالامال دی.

انور ټول مینه ـ مینه دی، له هرې کلمې یې مینه راورېږي، هره وینا او هره لیکنه د مینې په لوښي کې وړاندې کوي، ځکه نو دی په رېښتیا سره د مینې او وفا یو رښتینی سرسپارلی سرتېری دی. دی به یو عادي عکس نه له خپل ذهن نه د راوتونکو کلماتو په وسیله د مینې داسې نښه جوړه کړي، چې لوستونکی او لیدونکی اړ وي چې په شېبو ـ شېبو هغه عکس ته وګوري او څو ځلې د ده لیکلي جملې ولولي. دا یې د لیکلي پوست لنډ متن دی:

«چې ناست وې، ناست وې، ناست وې...
ټول عمر- د دې قصر هغه بره کړکۍ کې-
یوازې ناست وې،
او په بل مازدیګر «هغه» راشي.
بیا دننه شئ؛
دیوالي‌بخارۍ ته ناست وئ،
د خسو- سکروټو قرصه‌هار وي؛
او تاسو یوبل، په سرو شغلو کې، په نڅاه وینئ!
څنګه مینه لیونتوب نه دی!!
کور یې ودان، دې عکس یو عمر مینه راباندې وکړه:



وفا سمندر هرډول ټپ د مینې د مرهم په کارولو سره رغوي. دا د ده د خولې خبره ده:

«افغانان که په تن روغ هم وي، خو وروستیو ناخوالو او جګړو د دوی ذهن، زړه، احساس او عواطف ټپي کړي او دا ټپونه یوازې د مینې په وسیله جوړېدلای شي...»

وفا سمندر د یو چا د بریا مبارکۍ ته هم د تورو او کلماتو کاروان په مینې باروي او بیا هرکلي ته ورځي، په ریښتیا چې دی د مینې مبلغ او استازی دی:

«د مرغانو د اواز او الوت په دې بندیز بندیز دنیا کې، فریحې نوزادي، په کوربندوافغانپېغلو لپاره، زیری راوړ:

زما د څه باندې ځلورو لسېزو، یار، ملګري او انډیوال، احمدجاننوزادي، پر خپله فسبېوکـپاڼه، دغه عکس سره کښلي و، چې لور یې (فریحې نوزادي) د انګلستان له یوه مشهور پوهنتونه، د عامه روغتیا په برخه کې، ماستري ترلاسه کړې!

د نوزادي کورنۍ، سترې، ځېلي او په غمونو کې ډوب هلمند او غمو غوبل کړي افغانستان ته دې دا ښادي مبارک شي!

د دې په هیله، چې د افغان نارینه تریخ ځیګر، د خدایي مینې او رحمت په باران، د تعصب او کرکې له سرطانه پاک شي. او ښځه د انسان په قد برابره، د ژوند، زدهکړو او کار دنیا ته راووځي!»

وفا سمند په ټولنه کې هره پېښه چې وغواړي، راایخلي د خپل فکر په لابراتوار کې یې اچوي او د افغان انسان نیکمرغۍ او د وړاندې تګ په موخه یې رڼوي (صیقل ورکوي) او بېرته یې د خلکو په مخکې ږدي، دا لاندې یې یوه بېلګه ده:

«پکتیکاوپکتیاوخوست، په نوي پاڅون سره، تر سپوږمۍ، تېزه رڼا، د افغانانسان پر خزان، خزان ذهن او زړه راخوره کړه.»


وفا سمندر یو ځلې د مینې د ویش په باب داسې ولیکل:

«د مينيکولو جنت:
«لومړی گام
عشق پېلوم. مينه کوم. ځان په ټوله هستۍ کې خوشې کوم.
نغواړم څو منه غوښه، څو لاستي هډوکي او فقط يو دوه منی پیپ سره وینه پاتې شم.
سرنوشت يوه کلمه ده: مينه، مينه، ميييييييييييييييييييي...نه!
بې مينې نشته. خدای چې شته؛ مينه شته؛ او په مينه شته.
مينه يې ورکوي. مينه ځان وېشي.
ژوند بې مينې نشته. او مينه بې ژونده نه ده. ځکه نو ژوند مينه ده او زه غواړم هر خدای پيدا کړی ته مينه ورکړم، مينه واوروم، مينه شم.
غواړم عشق او مينه يوه يوه ته و اورم؛ دومره چې هر غږ او حرکت، او فکر او عمل مې مينه شي
.
دا هغه وخت شوني ده، چې مينه کې اوبه شم، مينه شم او د ځان په نامه يو نوم، يو وياړ، يو ديوال او يو شهرت و نه اوسم.»

د جگړې په داسې يو ماحول کې چې له سمې او غره نه، له بوټو او ونو نه د وينو او باروتو بوی جگېږي، د وفا سمندر له ژوند ښونکو افکارو او ليکنو نه، د مينې او وفا وږم د خلکو پزې او ذهن ته رسېږي؛ دا يو الهي نعمت دی.

دا يې بله بېلگه:

«د مينې خاوره
۱
په گډه يې اورو:
«د مينې خاوره غږ ده، کلمه ده او د ابديت له عاشق سمندره را روانه ابدي نغمه.
تورو (حروفو) کې چې مينه (پو) نه کړي، نو شنډ دي؛ د مينې لياقت نلري.
مينه ده، چې د حروفو اندامونو ته د مينې سا ور (پو) کوي.
که مينه نه وي، حروف په جنگياليو نومونو بدلېږي.
که مينه نه وي، حروف، کلمې، ادبيات...د جنگ په فرمانونو بدلېږي.»
مينې اکادمېسن
(د مينې اکادمۍ باغ) څخه
يادونه:
(د مينې اکادمۍ باغ) او څو نور کتابونه، چاپ ته چمتو شوي، نو چې څه وخت د خدای تعالی اراده وه، چاپ به شي.»




وفا سمندر د خپلو ورځنیو مینه ناکو پوستونو په لړ کې یوه ورځ داسي پوست خپور کړ چي د ټولو مینو یوه ټولګه په کې راټوله ده، وګورئ:

«پر زخم زخم زړونو او حواسو مو، د میني یو تندباران وشه!»

د وفا سمندر د پاسني انساني شعار په کامنټ کې ما داسي ورته ولیکل:

«د کرکي پر ځای مینه داسي خپرېدای شي:

«پر زخم ــ زخم زړونو او حواسو مو، د میني یو تندباران وشه!»

ډېره مننه انور جانه، وفا سمندر جانه! 🥰 »

دا یې یو بل پوست دی:

«زما ښاغلیه، زما اغلې!

عجب وخت یې دی، چي په دې شنه سهار، خپل زړه و ذهن کي انبار انبار د ګیلو، شکایتونو، نفرتونو...خځلي، راوباسو، د باد وزرو ته یې ورکړو، چي یو مخ یې له ځان سره یوسي!

راځئ وښیو چي موږ ژوندي، تازه او نوي انسانان یو!

راځئ وښیو چي د بخشش، ورکړې (که نور څه نلرو، یوه خوله خندا خو مو په وس کي ده!)او مهرباني اولنمرګان یو!

ټول کار دادی:

د نورو وګړو-هغه که باکتابه دي یا بېکتابه - اخرت، خدایتعالی ته وسپارو،

او دنیایي چارې ټولمنلو بشري قوانینو تر چتر لاندې سرته ورسوه!

د ژوند او بخت مدینه همدا ده.

ډېره يې مه ذهني کوئ، ژوند کولو ته را زړور شئ!»

د مینې تر همدې پوست لاندې مې د مننې په دود دا لنډ کامنټ ورته ولیکه:

د مینې او وفا استازیه!
کور ودان چې په دې شنه سهار کې دې د مینې او وفا په سمندر کې ولمبولوو.

وفا سمندر په ټولنه کې د مینې د خپرېدو لپاره داسې لیکي:

کلا؛ د ډار سندوک!
له هغې ورځې، چې «انسان» د انسان ښکار ګرځېدلی دی، انسان، د کلا، برج، بالاحصار، چینديوال او نور دېوالونه، پر ځان راتاو کړي.

زمکه؛

د انسان د خرپوترپ سور میدان دی!

تر هغو چې زړه عقل فتحه کړي: «نه په چا کار لرم؛ نه به څوک کار راباندې لري!»

زړونه مو په څه هوا کې دي؟

بېمینې زړه، نشته؛

نو مینې ته زړور شئ!»

دا د وفاسمندر د یوې بلې ورځې لنډ پوست دی:

«بیا وایم: خپل مبارک ځان، د بدکردارو د بدیو په ډېران مه بدلوئ!»

ما آصف بهاند د همدې مطلب په کامنټ کې داسې ورته ولیکل:

«د وفا سمندره!
له تاسو نه ډېره مننه چې د خلکو د ذهن په کرونده کې د وللو او سپېڅلو افکارو زړي کرئ.
بریا مو په برخه،

وړاندې ځه!»

عام نظر داسې دی چې ژباړه له یوې ژبې نه بلې ژبې ته د پوهو او تجربو د لېږد او د ژبو د غنا ښه وسیله ګڼل کېږي، خو وفا سمندر د ژباړې مینهوال نه دی. یوه ورځ يې د تیلیفوني بنډار(۲۰۲۳/۰۶/۱۰) په ترڅ کې عجبه نوې خبره راته وکړه:

«ژباړه د تخیل قاتله ده او په درنه سترګه نه ورته ګورم.»

خو کله داسې هم شوي چې له پاسني نظر سره ـ سره يې ژباړې ته زړه ښه کړی دی او ځینې شیان يې ژباړلي دي:

ـ د «کودکان نور» په نامه کتاب يې له فارسي ژبې نه پښتو ته د «د رڼا کوچنيان» په نامه ژباړلی دی چې چاپ شوی دی،

ـ «تېر ژوندونونه، خوبونه او د روح سفرونه» چې نه دی چاپ شوی.

(آرزو عظيمي، د غړ نقاش (د محمد انور وفا سمندر د ژوند او ليکوالی هنر په اړه يوه لنډه څېړنه(، دويم چاپ، ۱۳۹۶ ل کال، ۵۰ ام مخ)

د وفا سمندر هرپل او هره ايستونکي ساه، له مينې سره مل ده، دا مينه دی د ټولو لپاره غواړي او وايي چې د ټولو خلکو ژوند بايد له مينې سره پيل شي او د مينې په ملتيا تېر شي. د دې خبرې ثبوت يې په ډېرو پوستونو کې ليدلای شئ، دا يې يوه بېلګه ده:

«... نوې ورځ، نوی ژوند دی.

وېښ بايد واوسو، چې هرڅه پخپل فکر کې پالو، يا يې بل ته وايو، يا عمل پرې کو، بېرته موږ ته راګرځي.

څومره به ښه شي، مينه واورو، مينه ووينو، مينه ترلاسه کړو!

دغسې به وشي؛ خو چې ذهن، حواس، چلندونه او کړني مو د مينې له جنسه جوړې وي!

مينهکول، د خدمت معنوي بڼه ده.»

د دې کرښو ليکوال وفا سمندر ته د پاسني مطلب په کامنت کې داسې وليکل:

«د وفا سمندره، د مينې استازيه!
د نفرتونو په دې اړودوړ کې دې د مينې څپې خورې او برلاسې غواړم؟»

ده بېرته د مينې په الفاظو دا ځواب وليکه:

«قدرمن بهاند صاحب!
پر ژوند او بخت مو د مينې سپيناور، زرغون واوسه.»

دا يې د تېرو مينهناکو پوستونو په لړ کې څو نور پوستونه دي:

«... زړه دې چې په خدايي مينه ډک شو، بيا نه د ځان او جهان لپاره، د مينې يو ستر باغ يې!
راځئ، له دې شېبې، د مينېباغ واوسو!»

«عاشق بودن فتح هستی است.
چقدر لذت دارد، وقتی احساس میکنيد، عاشق هستيد!
عاشق میباشيد و روی زمين هيچ دشمنی نداريد!
عشق انقلابی است که همهی زندگی آن را جشن خواهد گرفت!»

دې باسني مطلب ته ښاغلي اسماعيل لاروي په کامنټ کې داسې ليکلي دي:
«ستا اخلاص دې په ټولو ژوندې سرو کې عام شي.»

«زموږ ملا غوټه ماته ده!
داځکه ماته ده، چې غواړو، ټوله دنيا-ټول وګړي- د ځان په رنګ کړو!!!
که په دغه فکر، دغه باور، دغو اخلاقو ادامه ورکوو، په خدای که روغه ورځ ووينو!!
راځئ زما هم يوه نيمه ومنئ؛ له نورو به تېر شو؛
نور به خدای ته وسپارو؛

نور پوه شه او خدای پوه شه؛
ځان به جوړ کړو!
را سره غږ کړئ: نه د چا په دین، نه یې په دنیا کار لرم!
راځئ نن له ځان او یوه یوه وګړي سره په روغه کې ژوند وکړو!
وینئ، وسلې او جګړې د انسان‌نفس جوړې کړي، رواج کړي او په فرهنګ او باور اړولي دي!
عکس پخاطر!
که زما پخاطر نه وي، ددې ماشوم پخاطر، د یوه بل له سر، ازادۍ او مال څخه لاس اخلو!»

**د مینې اکاډیمۍ تاریخچه او بنسټ ایښودونکي:**

په داسې جګړه ځپلې ټولنه کې لکه افغانستان چې له هرلوري کرکه، مرګ او وینې اوري، وفاسمندر په داسې چاپېریال کې «د مینې اکاډیمي» جوړوي او د خپلو همفکره ملګرو په ملتیا غواړي چې د کرکې او جګړې په چاپېریال کې مینه وکري او د رڼا بزغلي کښېنوي.

یوه ورځ (۲۰۲۲/۱۲/۱۳) یې د همدې اکاډیمۍ په باب داسې ولیکل:

«مینه اکادمي او د عشق نوی مزل:

مینه‌اکادمي، چې د ۱۳۹۷کال په پسرلي کې، د وخت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نه د جواز په ترلاسه کولو، رسمي فعالیت پیل کړی و؛ د نظام له نسکورېدو سره، افغانستان کې خپل فعالیت په رسمي توګه پاتې ورساوه؛ خو دادی نورې خدایي زمکې یې د فعالیت پرمخ غېږه پرانستې.

د مینه اکادمۍ بنسټګر پلاوی: (محب جهاني، سیال یوسفي، نثار ژوند، ناصر عظیمي، دیاسنګ انجان، بي‌بي‌ماه احمدي، صدیق جهاني، اسمعیل اشنا...) او نورو مینه‌ګرو ورونو او خویندو، افغانستان کې، د مینه‌اکادمۍ په څو کلن عاشقانه مزل کې، ګام ګام په مینه او لورینه برخه را سره اخستی.

افغانستان کې د (مینه‌اکادمي) فعالیت په څو ټکو کې:

۱) د مینې او لورینې په اړه، سمینارونه ورکول،

۲) راډیویي پروګرامونه جوړول،

۳) د رسمي ارګان په توګه (برکت) نشریې چاپول،

۴) شپږ عنوانه کتابونه (خدای شته/ د مینې اکادمۍ باغ/ د درک شپېې/ د حال ابدیت/ غږ د کلمو روح/ او دعا ځان‌سپارل دي) چاپول او وړیا وېشل. او داسې نور کارونه.

یادونه: د مینه‌اکادمي ټول فعالیت وړیا او د خپلې خوښې له مخې و او له دې وروسته به، بهر له هېواده دغسې وي!

مینه دې ژوندۍ وي.

او «یار زنده صحبت باقي.»

د وفاسمندر له پوستونو څخه ښکاري چې د ده یو کرکتر «عشق‌اکادمیسین» دی او کله، کله د هغه/هغې له خولې نه روایتونه کوي. یو ځل یې د «عشق‌اکادمیسین» په حواله داسې یو څه په خپله پانه کې راکاپي کړي وو چې له حقیقت او مینې مالامال وو. هغه پیام داسې و:

«دوزخ زموږ خپل کاره‌واره فکرونه او عملونه دي، چې ببرته خپلې غاړې ته رالوېږي!

نو جنت هغه مینه-لورینه ده، چې موږ نورو سره کړې او کوو یې!

ځومره دې، چې زړه پراخ و، جنت دې هم پراخ دی.

ځومره دې چې فکر، زړه او احساس ښایسته و، جنت دې ځو چنده زیات دی

ته که له ځان سره، نورو سره او خدای تعالی سره په روغه شې او هر کار په مینه وکړې، ټوله دنیا به تا سره په مینه شي.

اوس دې خوښه، چې څپل ذهن، څپل زړه او څپل زور، په څه شي لګوې.

دوزخ یا جنت، ستا څپل انتخاب، څپل هوس او څپل زحمت دی!»

(عشق‌اکادمیسین تازه مسبج)

ما په ځینو ویبپاڼو کې د محمدانور وفا سمندر لیکنې له نظره تېرې شوې دی، دلته به یې د ځو بېلګو سرلیکونه یاد کړم:

تاند:

«ژوند مینه ګره بوربوکی»

تاند:

«د خدمت فلسفه»

تاند:

«د بل بدلولو دوزخ»

تاند:

«ژوند مینه ګره بوربوکی»

کابل‌نات:

«هغه مجروح وه؛ زه څه ولیکم؟!»

هشت‌صبح:

«مولانا، شمس او د روح سفر»

تاند:

«د نور او معرفت سمندر»

ازادي‌راديو:

«ایا د افغانستان اوسنی چاپیریال د ماشومانو لپاره مناسب دی؟»

هشت‌صبح:

«ژوندی عرفان»

اغلې ارزو عظیمي د محمد انور وفا سمند پر ژوند او افکارو باندې د لیسانس دورې مونوګراف په چوکاټ کې خورا په زړه پورې لیکنه کړېده، چې سرلیک یې دا دی:

«د غړ نقاش، د محمد انور وفا سمندر د ژوند او ليکوالۍ هنر په اړه یوه لنډه څېړنه»

دا غنيمت او د قدر وړ کتاب تراوسه دوه ځلي چاپ شوی دی. په دې اثر کي په خورا هنري ډول د وفا سمندر ژوند له زماني پلوه په څو لسيزو کي تر کتني او څېړني لاندې نيول شوی دی او په هره لسيزه کي د سمندر په هنري ژوند کي راغلي هنري بدلونونه څېړل شوي دي. اغلي ارزو عظيمي د فا سمندر د هنري سفر تکاملي بهير څېړلی دی او په خورا لوړه هنري ژبې سره يې داسي انځور کړی دی لکه یوه ماهره استاده چي وي:

- شپېتمه لسيزه،
- اويايمه لسيزه،
- اتيايمه لسيزه،
- نوي يمه لسيزه.

د اغلي ارزو د کتاب (د غړ نقاش) په يوه برخه کي د وفا سمندر په باب داسي ليکل شوي دي:

«ښاغلی محمد انور وفا سمندر د عرفاني مطالعي ځانګړی اتل دی. ځوان او با استعداده محمد انور وفا سمندر د لنډو ادبي ټوټو، داستانونو، ناولونو، رمانونو، ژباړو، تحقيقي، تخليقي، علمي مقالو داسي نوښتګر، ارت نظره او ژورخياله سمندر دی، چي د ادب د دريابونو ډېر لږ ملاحان اومانوګان به يې د پوهې تل ته ځان ورسولی شي. د ښاغلی محمد انور وفا سمندر نوم د ليکوالو او فنکارو په لړ ليک کي له ۱۳۶۹ ل.ل
)۱۹۹۰ع) کال څخه راپه دېخوا مشهور شو .د ښاغلي سمندر صاحب ځانګړنه په دې کي ده، چي دی تقليدګر ليکوال نه؛ بلکي نوښتګر پنځوونکی دی. دی لکه ماشوم او کمکی زلمی د چا پيښني نه کوي، د چا پر پلونو قدمونه نه ږدي. هغه چي له ذهنه، او بشري مکتبونو ستړی شو، نو بيا يې د زړه په پښو تګ پيل کړ او ما ته هغه د زړه په پښو روان موجود برېښي.»

(آرزو عظيمي، د غړ نقاش، د محمد انور وفا سمندر د ژوند او ليکوالۍ هنر په اړه يوه لنډه څېړنه، دويم چاپ، خپرندوی: مينهاکادمي، ۱۳۹۶ ل کال، ۹ ــ ۱۰ مخونه)

لکه څنګه چي په کوچنيانو باندې، په ډېرو کي ــ په جوماتونو يا کور کي د سعدی ګلستان او بوستان لوستل کېدل، په محمد انور باندې هم د دوی کلي ته راتلونکي بنجاره محمد عزيز راوړي کتابونو (دختر يتيم، دختر همسايه او جنايت بشر فارسي پوليسي ناولونه) ولوستل شول او د راتلونکي ليکوالۍ زړی په کي وکرل شو.

دا د محمد انور وفا سمندر د خپلي خولي خبره ده چي ما (آصف بهاند) ته يې کړې چي د يادو پوليسي ناولونو لوستل دومره اثر پرې وکړ چي د هنرې ادبياتو د تخليق زړی يې د ده په ذهن کي وکاره، لومړنی ناول (بنيادمان) يي وليکه او يوه مجرب ليکوال عبيدالله محک ته يې د دې لپاره وسپاره چي هغه يې د خپلي هنري تجربو د څراغ په رڼا کي ولولي او بيا ده ته خپل نظر ووايي، هغه ليکوال هم ولوست او ده ته يې وويل:

«زلميه دا دې لومړی ليکنه ده؟»

او بيا يې د هنري نثر ليکلو ته داسي وهڅاوه چي د محمد انور په ذهن کي د ليکوالۍ کرل شوی زړه نور هم راټانډ شو او ډېرې څانګې يې راوټوکولې.

د محمد عزيز بنجاره کتابونو پر وړوکي انور ژور تاثير وکړ او د محمد انور ذهن به تل له بنجاره او د هغه د کتابونو له محتوياتو سره لوبېدل، محمد انور دا لوبېدونکي فکرونه د خپلو هنري ليکنو د لومړنيو تجربو په ډول د کاغذ پر مخ ميلمانه کړل، خو له بده شامته چي د انور هغه کرښې د حوادثو

بلاوو ونغرلي او يادونه يي يوازې د زلمي انور د ذهن په کنډوالو کې د ناپېژاند باد په څېر داسي شپېلی غږوي چي يوازې انور يې اورېدلی شي.

محمدانور وفاسمندر له سياست نه ځان لرې ساتي او تل د ميني په سمندر کې وفا لټوي، خو ژوندپېښي يي داسي وايي چي په ځوانی کې يې سرو بادونو پر بدن باندې سرې نونکی راخېږولي وې، انور د خپلو فکري بدلونونو په لړ کې په چټکی سره د وفا او رڼا واکسين وکړ او له سرو نونکيو نه يې ځان خلاص کړ.

اغلې ارزو عظيمي د «غږ نقاش» په کتاب کې د وفا سمندر د څرګندونو په لړ کې يو ځای د ده له خولې داسي روايت کړی دی:

«وفا سمندر، خپله وايي، چي د هر هنري اثر له بشپړولو سره يې، ګنله، چي دا يې د تخليق او ادبي کار اوج او د پای ټکی دی؛ خو هغه وايي، چي زما لپاره تل بل ګام شته، ځکه نو له دومره ليکنو او پنځونو سره ـ سره، هغه خپل هري کار تازه او نوي بولي. دغه مهال چي وفا سمندر په رسمي ډول د سيمه ييزه اورګانونو له خپلواکه اداري سره کار کاوه او لا کار کوي، د هغه ليکنو له سيکالوجيک رنګ نه عرفاني- معنوي رنګ ته ځان بېل کړ. اوس هغه د نوي، تازه او خلاق عرفان د يوه لاروي په توګه، د هنر په ژبه، د معنا تازه څېرې، په خپل بشکلي نثر سره نقاشي کولي، او د بېلابېلو کتابونو په بڼه يي له چاپه راوېستلي.

(آرزو عظيمي، د غږ نقاش، د محمد انور وفا سمندر د ژوند او ليکوالی هنر په اړه يوه لنډه څېړنه، دويم چاپ، خپرندوی: مينهاکادمي، ۱۳۹۶ ل کال، ۴۸ ــ ۴۹ مخونه)

**درې کتابونه، درې پيامونه:**

د وفا سمندر د کار طرز او د فکر څرنوګوالی ترډېرو پورې. د ده په ورستيو درې چاپ شوو کتابونو کې ښه څرګند شوي دي:

ــ د بل بدلولو دوزخ، (چي په تېرو څلوېښتو کلونو کې د «قتل جرم » تر پوښتني او نقد لاندې نيسي.)،

ــ د ځان موندلو برزخ (د نورو په ژوند، ازادی او برخهليک کې څوک بايد مداخله او قضاوت ونکړي.)،

ــ د ميني کولو جنت (مينه په مينه کولو تر لاسه کېږي).

محمدانور وفا سمندر له بل چا سره نه شي پرتله کېدلای، په دې چي د ده هرڅه خپل دي او د هېڅچا پر سبک نه دی روان، د تورو او کلماتو په اوډلو او کارولو کې ځانته جلا سبک لري چي تر ده پخوانيو ته هېڅ ورته نه دی. دی د کلماتو په يوځای کولو او ودولو کې ځانګړي منحصر په فرد سبک لري، عادي خبرې هم په داسي ډول ليکي چي يوازې د ده د سبک او فکر استازولي کوي. د ساري په ډول يي دا څو جملي ولولئ:

لومړی مثال:
«بختور به هغه وخت وم، چي زړه او فکر له ميني ډک کړم.»

*****

دويم مثال:

«غږ او رڼا، د روح ويټامين:
که غږ او رڼا نه وي، حيات پای مومي او هېڅ نه پاتې کېږي.
غږ او رڼا د عشق او رحمت له بېپولو اقيانوسه را بهېږي او د هستی، ذرې ذرې ته ژوند ورکوي.

بېرڼا اوسپړلای شو؛ خو بېغږه نه!
«غږ» خدايي مينه، په ټوله هستۍ کې «پو/پف» کوي.
غږ حيات دی او د لښتي د غاړې له چنجي نيولې، تر بنيادم، تر غره، تر لمر، تر ستوريو او تر کهکشانونو، ټول په خالص غږ ژوندي دي.
شعر، هنر او فکر د غږ ذهني- رواني بڼې دي.
طلاييغږ، د طلايي زړه په غوږ اورېدلای شو؛ مين واوسئ:»

وفا سمندر کلمې د موسيقي نغمو او څپو ته نځوي او خپل غږونه داسې نقاشي کوي چې ځينې يې ژر درککولای شي او ځينې لا ترډېرو نه پرې پوهېږي. د سمندر د کتابونو نه نيولې، بيا په ټولنيزو رسنيو کې تر يوه واړه پوست پورې، چې څومره يې لولې دا ثابتيږي پرکومه لار باندې چې سمندر روان دی، هغه د انسانيت لاره ده، د سمندر افکار د مدرني نړۍ له فکر او قوانينو سره په ټکر کې نه دي، ښايي د افغانستان له دوديزې ټولنې سره يو څه ستونزې ولري، خو زه فکر کوم چې سمندر يې دومره خيال نه ساتي، دی ارام او متين له تينګ هوډ سره پر خپله لاره روان دی.

وفاسمندر هرڅه ځانته ليکي او لومړنی مخاطب يې ځان دي، دی هېڅوک نه ردوي او قضاوت هم نه پرې کوي، د بل ردول ښه نه ګڼي.

مخکې هم يادونه وشوه چې ارزو عظيمي «د غږ نقاس» د وفا سمندر پر ژوند، افکارو، اثارو او د استدلال پر څرنوکالي باندې ليکلی دی، د کتاب په پای کې اغلې ارزو يو نوی او مهم نوښت هم کړی دی او له وفا سمندر سره يې يوه مرکه کړې ده. دا مرکه د ۱۴۰۲ ل کال د وري په اتلسمه (۱۸مه) په « 8 صبح» کې

هم خپره شوې ده. دلته به د مرکې ځينې برخې راواخلم، د مرکې دا پوښتنې او ځوابونه به له يوې خوا د ځينو لوستونکو په ذهن کې راپيدا شوو پوښتنو ته ښه ځوابونه وي او له بلې خوا به په لنډ ډول د انور وفا سمندر د طرز تفکر پېژندنې څرک هم په کې وموندل شي:«

**ارزو:** وفا صاحب! خبرې دې سپينې مرغلرې دي، ستا خبرو سره د سړي زړه اشنا ښکاري؛ خو ذهن نه وربانديې پوهېږي. ته دا منې؟

**وفا سمندر:** ذهن!!! لا تېر کال ما د (بل بدلولو دوزخ) پسې د (ځان موندلو برزخ) ۴۸ ګامونه وليکل او هلته دا زما دعوه وه، چې د هر وګړي ذهن يو کمپيوټر دی، يوازې په دومره توپير سره، چې د ځنو کمپيوټرونو حافظه زياته د ځنو کمه، ځنې يې زياتې وړتياوې لري او ځنې بيا لږې وړتياوې لري. خو ټول ذهنونه، پر انسان سپاره کمپيوټرونه دي...

**ارزو:** که سړی وغواړي ستا ټولې ليکنې په دوه درې کلمو واړوي، نو يوازې «غږ، رڼا او مينه» پاتې کېږي. غږ، رڼا او مينه زړه ته اشنا دي، د زړه خوښېږي، خو بيا هم څوک ښايي ستا په مقصد پوه نشي...تاسو په دې کلمو کې څه ليدلي؟

**وفا سمندر:** زه د غږ او رڼا د مکتب شاګرد يم. په دغو دوه درې کلمو کې ټوله انرژي را ټوله ده. زما لپاره تر الهي غږ او رڼا بل نېږدې او حاضر حقيقت نشته...وبرېږم زما خبرې بل ډول تعبير نشي! ښه ته يوه سپېڅلې پېغله يې، کټ مټ لکه خپله پېغله لور مې داسې يې، نو له تا يې نه پټوم، موږ تاسو هر يو، خدای غواړو. د هر ژوندي سرنوشت خدای ته ورتګ دی. نو هغه بايد پيدا کړو. هغه بايد ولټو. هغه ته بايد ځان ورسو. خو خدای په لور نه د سړک لاره ورغلې، نه الوتکه ورتللی شي، نه سپوږمکۍ او نه څوک د پښوا په شان د اوښ يا آس يا فيل په سپرلۍ، د هغه سپېڅلي ټاټوبي ته ځان رسولی شي.

**آرزو:** دا خو ما اورېدلي او لوستي دي؛ خو تاسو څرنګه غږ او رڼا يادوئ؟

**وفا سمندر:** ما ووېل، چې زه د کلمې یا غږ او رڼا د مکتب شاګرد یم. زه یو لاروی یم. ما ځان خدای ته سپارلی او پرته له خدایه، هېڅ شی راته حقیقي نه برېښي. دا دنیا ماته د خدایي غږ او رڼا ځېره- بڼه ده ووایم ځېرې- ښکاري. که خدایي عاشقانه نعره نه وي، دنیا یوه شبېه هم نشي پاتې کېدای. او دا راته زړه وایي. خدایي غږ را اوري، دغسې یې د الهي نور وړانګې پر هستی او نیستی را خورې دي؛ نو ماته د غږ او رڼا له تجربې زیاته حقیقي پوهه بله په نظر نه راځي...بیا وایم چې زه د کلام شاګرد یم. د هېڅ شي دعوا نلرم او نه مې په وس ده...

**ارزو:** دې خبرو دې په چرتونو لاهو کړم...ښه اوس د عشق یو څه ووایئ...زموږ په کلتور او خوی او عادت کې خو عشق د دوه نااشنا ځوانانو شدیده عاطفي رابطه بلل کېږي. تا ته عشق څه ښکاري...دا ځکه وایم، چې ته خو زما د پلار پر ځای یې، خو بیا هم په دې عمر د عشق چیغې وهې...دا ولې؟

**وفا سمندر:** عشق: اروزجانې! عشق نه ده د وېلو... زما شعرونه یا د چا کلام په یاد نه پاتې کېږي، خو د رحمان بابا دا یو په زړه را شین دی، او دومره مې وېلی اوس یې تاته هم وایم:

**«دا دنـیـا ده خـدای له عشق پـیـدا کړې**
**د جملـــه و مخلوقـــــاتو پلار دی دا»**

تېرو کلونو کې ما ډېر ولیکل او نور ځان سره موافق شوی وم، چې د حقیقت ورکه مرغلره یوازې په ډېرو لیکلو نه موندل کېږي؛ نو باید څه مهال څه ونه لیکم؛ خو چې په خپل چاپېریال، خپلو خلکو، خپلو خویندو ورونو، مشرانو او کشرانو په ژوند مې نظر وځغلاوه، نو یو مخ راته د مینې لوړه را تر نظره کېدله. ما ومنله، چې خلک مې، مشران او همزولي مې، سخت د مینې تږي دي. نو باید مینه وشي. او تاسو به دا را سره منئ، چې انساني محدودیتونه، دا فرصت نه راکوي، چې یوه یوه ته خور شې، ورور شې، اولاد شې، پلار شې... او د ژوند او سرنوشت ښکاره او پټ زخمونه او دردونه یې ورته ټکور کړې؛ نو بیا مې د لیکنې لاره ونیوه او (مینې کولو جنت) باغ مې د خپل زړه په سپین اور را پوخ او دغې مینې ته تږې نفوسي ټولنې ته وړاندې کړ.

د مینې په اړه فقط دوه حقیقتونه یو ځل بیا افشا کوم:

**یو:** مینه فقط په کولو تر لاسه کېږي،

**دوه:** مینه تر ټول برتر الهي قانون دی. او د انسان ذات- اروا- شته، ځکه چې خدای تعالی ورسره مینه کوي.

**آرزو:** له دومره ډېرې لیکوالۍ ستا لوی مقصد او مرام څه دی؟

**وفا سمندر:** په دې هڅه او تلاش کې یم، چې متن، نثر، کلمې دومره سپېڅلی، خالصې او سوچه شي، چې پرته له الهي عشق او سپېڅلې موسیقی بل هېڅ څه په کې پاتې نشي.»

اغلې ارزو د مرکې په پای کې د «وروستی یاددښت» ترسرلیک لاندې د وفا سمندر د ژوند، اثارو او افکارو تر مطالعې وروسته خپل نظر په لنډ ډول داسې لیکلی دی:

«د وفا سمندر په اړه له دومره مطالعې او دغې لیکنې سره بیا هم نه یم پوهېدلی، چې وفا سمندر څوک دی؟ څه وایي؟ څه غواړي؟ زه له وفا سمندر سره ډېره ناسته یم، هغه زما لپاره معنوي پلار دی، باور وکړئ، چې دومره مې هغه د هغه له خبرو او مجلسه موندلی، هغومره مې د هغه د اثارو په لوستلو نه دی موندلی. زه بیا بیا د هغه اثارو مطالعې ته ناسته یم. خو هغه تل له خپلې لیکلې پنځونې یو قد لوړ ودرېږي.

ځکه نو ښايي تاسو يوه ـ يوه ته هم غوره وي، چې وفا سمندر، فقط دغه شيبه ومومئ، دغه شيبه يې وغږوئ. او دغه شيبه هغه ومومئ، چې څوک دی؟ ولې دی؟ او څه خزانه يې له ځان سره راوړي؟ ځکه نو زما لپاره سخت برېښي، چې وفا سمندر تعريف شي. او دغه تعريف په يوه ادبي حقيقت بدل او نورو نسلونو ته پاتې شي. هغه شيبه په شيبه نوی رنګ راوړي. او دا يې «ځان» دی.

ښايي يوه لاره دا وي، چې دې کشف ته موږ هر يو خپله متې را ونغاړو.» (د غړنقاش، ۱۶۴ ـ ۱۶۵ مخونه)

د وفا سمند پر ليکنو، اثارو او افکارو باندې ګڼوفرهنګيانو خپل نظريات د مقالو او په لمانځغونډو کې د ويناوو په ترڅ کې څرګند کړي دي، چې ډېره برخه يې توصيفي بڼه لري، خو د دې ترڅنګه ځينې قلموالو بيا د ده د سبک او طرز تفکر پر څرنګوالي باندې انتقاد هم کړی دی چې دلته به يې يادونه وکړم:

د وفا سمند په باب د نورو نظريات:

پوهاند ډوکتور مجاور احمد زيار د وفا سمندر په باب د «د يوويشتمي پېړۍ منصور» تر سرليک يوه مقاله ليکلې ده چې د ۲۰۲۰ م کال د فبرورۍ په اوولسمه نېټه په تاند کې خپره شوې ده.

په دې مقاله کې زيار صاحب د وفاسمندر د ليکنو تر څو صفتونو وروسته، د وفاسمندر پر نوې فکري لاره باندې په ډېر تنده ژبه خپلې نيوکې داسې د وفا سمندر په ادرس داسي وړاندې کړې دي:

«د ځوان پښتسرلاري ، خوږ ژبی شاعروليکوالو ژباړن او رسنوال (وفا سمندر) چې له نومهالي اروپايي مود و فېشن سره پرې د چا هېڅ باور نه راځي،د سېکولرېزم پرځای دېتر مولانا هم زياته نړه اپلاتوني- اشراقياو ان منصوري لياره پسې واخلي!
څو ورځې وړاندې چې کران او هڅاند سمندر د افغانستان په علوموااکادمۍ په خپل راتګ وپاسللم اويو پريوسره وغږېدو،دامنښته يې راته وکړهچې دخپلې ادبی او شعري وړتيا دلوړونپاو د يوې نوې ادبي، او بيايه پښتو کې د نوښتګرانه لارې کښنې په موخه تش په تيوريکي يا تاکتيکي، نه پراکتيکي توګه،بی له دې چې په کړن کې پرې وګروهېږي،د منډې له مخې تصوف ته مخه کړې او ځان يې پکې دومره ملا کړی چې څوک ګروهپلټونکی (محتسب) يې داتورتومت دپزې پېزوان نه کاندې:
((چې بې علمه شيخي کاندې، همدا کفر يې بس دی)!
... بياهم په دې لړ کې دا لاندې څو علمي-منطقي (ولې)مخامخ د وفا صاحب مخې ته ږدم او ځنې پوښتم چې که ته په دې يوويشتمه پېړۍ کې همدغه لوی زات خپل ځمکنۍ خليفه دومره ذهني پرمختيايي پړاو ته رسولی چې الکتر و نيکي ټېکنالوژۍ رامنځته کړي، د کمپيوټر ساينس له ارتو و بيرتو شاهکاريو په لړ کې تر مېس ربوټ( الکترونيکي کور مزدورې ) پورې ورسوي؛د بيولوژيکي انجنيرۍ په چوکاټ کې پروټو پلازم ورغوي او له DNAڅخه ژوي څار وي راوپنځوي. او چې لا د همدې رواني پېړۍ په اوږدو کې انساني ماغزه نورې څه معجزې راپنځوي، وار له مخه يې فرضيې، تيورۍ او وړاندوينې،خبرتيايي (انفارماتيکي) وزلې وسيلې (انټرنېټي رسنۍ)، او ساينس فېکشنو نه پرلپسې ټولې وا قعي انسانی نړۍ ته رسوي؛ اکر داچې ته د مسلکی صوفيانو غونډې تراوسه پر تاريخ ځېلې دوه نيمزرکلنه ذهني (sub jective)اپلاتوني فلسفه شخوند وهي او بيا يې تر هرڅه له مخه په ټول ښاخ و غر ور سپين سترګۍ داسلامي عيني (objective) فلسفي ځايناستي کوې، ايا ګرده اسلامي او بيا خپله پښتني- افغاني ټولنه په ځان پورې نه خندوې؟
او په دې لړ کې دا اپلټي(واهيات) څنګه په خدای راکړي ذهني سول اوسني خرد، نه ستا په (خرد قبلي) توجيه کولای شې:
د ميليونونو کلونو په پوړيو کې دا پر مختللی ژوند و ژواک له معجزه وزمه ذهني کارندوييو او برياوو سره پر نشت شمېرل!
د زرګونو کلونو تمدن د ژبې له ايجاده تر ننني معراجه له صفر سره ضربول!

تر ویندہ ژبې چي تمدن يې په مټ رامنځته شوی او له چوپتيا (سکوت)، په نورو ټکو، له ګونګېداسره دغه هرڅه سم له سموني پر سیند و سمندر لاهو کول!
دا دومره ارته بيرته نړۍ له ټولو مادي او معنوي پرمختګونواو نعمتونو او خوندونو سره چي پر ځمکه د خدای خليفه ( انسان) په کاروزيار رامنځته کړي او لا کوي يې،له نشته برابرول!
له ناخوالو سره د جنګ جګړې پرځای سمڅوته تېښته کول... لکه، ستر خوشال چې وايي:
کښېني په خلوت کې شيخه، سود يې راته وايه!
ولې پر خپل ځان دا هسي ارت جهان تنګ کړې؟
او داهم د يوه نوښتګر ټاپ پارسي شاعر او انديالسيد رفعت حسينی دامنطقي شننه او ارزونه:

عرفان وتصوف درافغانستان وايران وهند وپاکستان
اسلامگرايی /غيرعربی/ می باشد.
درتمام اينکشورها
رکودِ اجتماعی مشهود است .
گونه يی ديگر از باصطلاح، جهان بينی نيست
و دريچه وشيوهء ديگرگونِ انديشيدن دربارهء هستی وکائنات و انسان نميباشد.
د ملګرو ملتو تازه ګوزارش وايي چي ستا په نومَونه (مجازي) نيمه نړۍ، اوپه دې لړکي ستا نيم هېوادوال،د شپږو ميليونو ماشومانو په ګډون، همدا سږنی ژمی له مرګاني ولږې سره مخامخ دي او دغه سازمان متې تر نيمايي ژمي پورې مرسته کولای شي او ته بياهم په خيالی اسمانو کې ددوه نيم زرکلني اپلاتوني ببولالي راغبرګوې: دا هستي د زماناو مکان په قلمرو کې د خالص عشق انعکاس دی او... (د غړ چينه ۱۶۶)!
او يا به وايې،له دې هستی سره ترلې هر راز ښې او بدې او په دې لړ کې ولږه تنده، ترهګري او مرګ و ژوبلې زموږ د خپل ذهن زېږنده ده. خو زه ګومان نه کوم، ته د ورته ليدتوګې ګروهن د هندوانو لسمه هومره ولږه تنده وزغملای شي چي له۶۰-۵۰ کلنۍ سره يې د روژې په نامه تر مرګه پورې نيسي او پرخپل اټکل ترتش په نامه اسلامي عارفانو مخکې فنا فی الهي پورې ته رسېږي، که نه، لږ تر لږه جنت ته خو په يوه منډه ځان رسوي!
او بيا د دې پرځاي چي پر خپلو نوښتګرانه ادبي پنځونو ووياړې، په لوی لاس يې سپکه وړۍ کوې، لکه د(خدای شته) په نامهپه کښلي سپين شعر سره (هماغه ټولګه ۱۸۰) او داسي نور.»

نجيب منلی بيا خپل نظر داسې ځرګند کړی دی:

«منلی وايي چې د سمندر هرڅه په ابهام کې دي، خو کېدای شي يو وخت ځان بدل کړي او له ابهامه راوزي، منلی صاحب استدلال دا دی چې سمندر تر پخوا ښه شوی دی، مثال يې داسې ورکوي چې: هغه سمنر چې «بنيادمان» ليکلی دی، هغه سمندر نه دی چې «د غړ چينه» يې ليکلې ده.» (سمندر وفا، د غړ او رڼا لاروی، افغان مسلکي مطبعه، چاپکال: ۱۳۹۱ کال ژمی، ۸۴ ام مخ)

ډاکتر محب زغم:

«د ټول کتاب اصلي خبره دا ده چې «مينه په ويلو نه کېږي، مينه په کولو کې شته». سمندر د مينې يو ډول انساني، عرفاني، تصوفي او لامحدوده بڼه ياودي چې جنس او جنسيت نه پېژني، په عمر نه ده ترلې، د رنګ پروا نه لري، قوم او توکم ورته بې مانا دي، انسانان په دين او مذهب سره نه بېلوي ... بلکې مينه «د هر انسان اول او اخر کار دی»، «د هر انسان هېر شوی کار دی»، «الهي غړ دی» ...
سمندر وايي «مينه هغه سپين اور دی چې سړی سوځي خو تور داغ نه پرېږدي.»، «مينه په کولو کې ژوندۍ ده، پرته له دې مينه نشته.»

فکر کوم سمندر غواړي يو ځل بيا د مولانا شپېلۍ (نای) راواخلي او کرکو کانه کړيو غوږونو کې د مينې هېره شوې نغمه وغږوي. دی دې نتيجې ته رسېدلی دی چې موږ ځکه د مرګ چوپړ وهو چې مينه مو هېره کړې ده، دلته ځکه سرونه پرې کېږي، سترګې ړندېږي، زړونه راايستل کېږي، جسدونه سوځول کېږي، پېغلې او ژبې سنګسارېږي، د بمونو واسکټونه اغوستل کېږي ... چې مينه هېره شوې ده.

سمندر لا په خپل نثر کې هم شاعرانه تشبيهات کاروي: آصف
دا يې بېلګې دي چې ډاکتر محب زغم د سمندر په «د مينې کولو جنت» کې په نښه کړې دي:

«د ګران وفا سمندر دغه کتاب سربېره پر دې چې د محتوا په لحاظ عالي دی او خورا انساني پيغامونه لري، په هنري لحاظ هم په زړه پورې اثر دی. سمندر د يوه نوښتګر او شاعر طبيعته ليکوال په توګه خپل نثر په ښکلو ترکيبونو، تشبيه ګانو، استعارو او سېمبولونو ښايسته کړی دی. يو څو نمونې يې دا دي: کنسرو شوي او پاستوريزه فکرونه، سپينه پوهه، تل ژوندی، د شرم زغره، د شرم سياه چال، د ايډيالوجۍ مسافر، عاشقانه نبوغ، مينه ګر، نفرتګر، مونث نارينه ګان.»

ډاکتر زغم «د مينې کولو جنت» له ښکلايز اړخ نه د رضايت تر څنګ د کتاب ژبنی اړخ هم ښه ارزولی دی او د خپل علمي بحث په ترڅ کې داسې وايي:

«همدارنګه د فعلونو تنوع ته پام کوي او عين مفهوم د مختلفو فعلونو په وسيله بيانوي: «سپين ته تور ولاړ دی، رڼا ته تياره پڅه ده، غرونو ته درو خولې خلاصې کړې، ښه په بدو ککړ دي، مثبت ته منفي لاره نيولې، او مينه د کرکې په جېل کې خوب وړي.»
او دغه مرکبه جمله د جوړښت په لحاظ راته نوې ښکاري:
«ګلانو سرې شونډې غوړولې چې انساني ککړتياوو خوسا کړې هوا، په خپل ګلابي تنفس سره پاکه او سوچه کړي.»
د دې جملې متعارفه بڼه ښايي داسې وي: ګلانو سرې شونډې غوړولې چې هغه هوا چې انساني ککړتياوو خوسا کړې، په خپل ګلابي تنفس سره پاکه او سوچه کړي.
خو د ښاغلي سمندر جمله لنډه ده او د «چې» تکرار په کې نشته. دا ډول جملې په انګليسي کې شته خو په پښتو کې مې تراوسه نه وې ليدلې.
بل کمال يې دا دی چې په ځينو ځايونو کې يې فعلونه نوي کړي دي. مثلاً: «دا مې هم پر فيسبوک وموندل او پښتو توري مې ورواغوستل.»
يا په دې جمله کې: «پر دې متن مې زړه بايله، ما هم راواخست او پښتو ته مې راکوز کړ.»
د دې کتاب ځينې جملې په دې ارزي چې د مقولو او متلونو په شان وکارول شي، لکه دا:
- شيطان ځينو انسانانو ته د خپلو تعريف شويو ګناهونو لاسپاک دی...»

يونس ارين:

د دې کرښو د بيا کتنې په وخت کې وفا سمندر ما ته يو لينک راولېږه، په لينک کې د ده په باب د يوې جوړې شوې لمانځغونډه د يوې برخې ويډيو وه چې په هغې کې د انور وفا د ژوند ــ اثار او افکارو په باب، د ده يو کليوال ــ سيمه‌وال او ملګری ښاغلی يونس ارين خبرې کړې دی، د ښاغلي يونس ارين وينا دولس دقيقې‌څلورڅلوېښت ثانيې وه او هره جمله يې ترمرغلرو ځکه ارزتمنه ده چې دی د انور وفا سمندر د فکر او فن ژورو ته ورښکته شوی، هرڅه يې په دقيق ډول مطالعه کړي او د انور وفا د فکر او سبک خلاصه يې په خپله وينا کې راخيستې ده. ياده وينا ډېره علمي او هراړخيزه ده او هغه څه په کې ويل شوي دي چې د وفا سمندر د فکر او ليکنو ليدلوری ښيي. د يونس ارين له علمي وينا څخه څومرغلرې د مثال لپاره دلته رانقلوم: «

ــ ... کره کتونکي وفا سمندر د کوم مکتب په تله کې نه شي تللی،

ـ په اوسنيو ليکوالو کې زه وفا سمندر د عدم تشدد فلسفي يو رينتينی او يوازينی پلوي بولم،

ـ هغه ته د ټولو بنيادمانو وينه يو رنګ ښکاري،

ـ د وفا يون ډېر سپېڅلی او انسانی دی،

ـ هغه شيطان بېوطنه کول غواړي.»

**يوه سپارښتنه او يوه هيله:**

دلته زه د دې خبرې يادول ډېر اړين ګڼم چې وفا سمندر يو ځل بيا بايد د هغه چا په باب سوچ وکړي چې د هغه کتابونو د ده د ککرې په ګومبزه کې د ليکلو تخم کرلی دی، وفا سمندر د محمد عزيز بنجار په باب بايد بيا يو څه وليکي. کله چې وفاسمندر د خپلې ليکوالی په باب غږېږي نو په ټينګار سره وايي:

«... که محمد عزيز بنجاره نه وای، زه به دغه پوړۍ کې هم نه وم. ياد يې دومره را په کې شين پاتې دی، چې د ليکنې پيل مې پر هغه و. ۱۹۸۲ کال و. د پوهنتون له زده کړو سره مې يوه د سلو پاڼو کتابچه د محمد عزيز په باب ناول ته بېله کړه. کتابچه ډکه شوه، خو نه چاپ شوې او نه له ما سره شته!»

کله مې چې دا پاسنی جملې له ښاغلي محمدانور وفا سمندر نه واورېدې، د تيلفون پر کرښه مې ورته وويل:

انورجانه!

وفا سمندرجان!

سپارښت يې ګڼې که هيله يې ګڼې، زه غواړم چې د بنجاره په باب دې چې هرڅه ليکلي وو، يو ځل بيا يې وليکه، خو نه له خپل اوسني حالته، بلکې ته به ځان بيا هماغه وخت ته ستنوې، هغه وخت ته به خپل فکر بيايې چې د بنجاره په باب دې د لومړي ځل لپاره څه ليکلي وو، په هماغه بڼه به يې انځوروې، چې په ځوانی کې دې انځور کړي و، د اوسني وخت فکر او تجربې به نه ورسره ګډوې.

دلته به «غږ او رڼا زما وزرې» کتاب څخه د وفا سمندر د شاعرانه نثرونو څو بېلګې :«

زما اراده نه، د خدای اراده دې ترسره شي.

١

غږ د سکوت فعل دی. سکوت سوچه نه تاليف شوی غږ!
سکوت ټول غږونه په ځان کې لري.
سکوت يو دی او غږونه يې نومونه،
پرته له دې غوږونه نه ورته خلاصېږي.
موږ «غږ» نه اورو؛
نومونه يې اورو، چې د ذهن ماشين ورته اختراع کړي.
نو زموږ غږ؛ غږ نه دی، هسې يوه تياتري لوبه ده،
زه د «زه» او زه ترمنځ واټن پر دغې نشه تېروم!
هغه فزيکي غږ چې غوږ کې خلاص شوی،
هغه وچې، کلکې، پلاستکې، لرګينې، اوسپنيزې، نقره¬يي او...نانځکې دي،
چې تمدن يې راوباسي،
او زما شخصي زمانه يې د خرڅلاو بازار ګرځي.

زه يي ولي اورم؟
تشه ډکېدل غواړي!
وړی مړېدل غواړي!
نوم ليکل کېدل غواړي!
...
زه به تش وم؟!
زه تشه يم!
غبږ، نوم را باندې ليکي.
زه په غبږ کې خپله تشه وژنم.
زه په غبږ کې خپل سکوت ماتوم.
غبږ زما شراب دي.
زه کنډو، کنډولی؛
د غبږ لاره؛
آواره؛
دښته؛
پانه،
...
تر هغه چې يوې مور زېږولم، زه څېړې وم؟
تر هغه چې يوه پلار نومولم، په څه نومېدلم؟
تر هغې چې د کلي، قوم، دود، تاريخ واسکټونه او خولی يې را اغوستلي؛
پر سر را ايښوولي
زه څه وم، څوک وم؟؟؟

* * *

٢
د کمپيوټر کړکۍ ته ناست وم؛
د ونې يوې پاڼې سره مې ليدل!
پاڼې خپله ټوله ښکلا او ځلا د خدای په نوم خوشې کړې وه؛
پانه تشه جالۍ وه، نه شنه او نه هم ژوندۍ!
د پاڼې کالبوت تار، تار سره نښتی و، ژوند يې نه و!
ژوند خدايي دی؛ خدای ته ورځي!
دنيا وچ، تياره او تار تار کالبوت پاتې کېږي.
خدای شته؛ خو چې ذهن را پر سر نه وي، راسپور نه وي؛
مرګ پيدا نه کړي!
«هغه» دی؛ خو چې ذهن (ځای) خوشې کړي؛
خو چې زه خپل کارونه له تاريخ څخه راټول کړم!
...
دومره څه و، چې پرته له دې درې ټکو په هېڅ ځيز کې نه ځايدل.
ټکي، نه وېل شوې کلمې دي.
ټکي د کلمو له شکله، له حالته الوتي!
ټکي په خدای خبر دي، څکه کرښې، هندسې او تبصرې نه جوړوي.
خدای شته؛ نور څه دي چې بايد ووېل شي!
خدای شته؛ زه څوک يم چې توضيح ورکړم!
خدای شته؛ نو هېڅ ځيز نه شته!

ما څه ونه وېل؛ هغه تش ځایونه وغږېدل،
چې د پاڼي د وزن او شکل په تللو سره؛
ما د مړو تارونو په تشیال کي ولیدل.

❋ ❋ ❋

٣

ولي سره وژنو؟!
څوک اضافي دي؟؟؟
خدای چې پیدا کړي دي؛ نو څوک اضافي دي؟!
خدای یې هومره رنګین، راز راز، او متفاوت پیدا کوي، چې لا ښه ولیدل شي.
«هغه» د همدغو رنګارنګ کلمو په ژبه خپل عشق غږوي.
وګړي، موجودات، د «راشکو بابا غر» او دا زما او ستا غرونه غرونه څېرې کلمې دي.
کلمې تر هغو غږ خوشې کوي، چې د غږ چپنې ته ورسېږي او تر چینې کېدلو پورې وسوځي!
«هغه مینه دی، مینه یې را په مخه کړې، او مینه یوازې هغه په ډاګه کوي!»
په هره څېره او نوم کې یوازې هماغه آبدي نوم غږېږي:
هغه خپله وینا ښیي؛ نو چېرې ولاړ شو؟
دا شنه یا په اوړي سره یا په مني طلا شوې ژېړه یا په واورو کې تنډ پروت ژمی،
هغه دی چې وایي!
ژوند پیدا کوي، ژوند هغه غږولی، راوړی او بېرته وربللی دی.
ژوند نه مري:
یوازې ځي او راځي، ترڅو هومره پوخ شي، چې یوازې هغه ووینې.
بل نه شته؛ یوازې یو شته...
خدای چې دی، نو څوک یې نشي پټولای؛
نشي معنا کولای؛
نشي را زده کولای.
خدای شته؛ نو څه شی را زده کوئ؟!
لمر شته؛ عکسونه څه کړم.
ژوند شته؛ متن به څه ووایي؟
ټوله هستي...یوه، یوه (هستي) وایي؛ مه غږېږئ،
چې «یو» غږېږي!
ډېرې له خبرو کولو تشې دي.
غرونه او سیندونه
لمر او سپوږمۍګاني، څه نه وایي؛
یوازې یو یې وایي.
او وګړي، خدای هومره وایي، چې ور یې دي!
مکتبونه-کتابونه داسې دي...
هغه هومره شته، چې پوهېدلای یې شم.
هومره یاد ته راځي، چې ورنیږدې شوی یم.
هومره مینه راسره کوي، چې منلای یې شم.
هومره لوی او ښوونکی دی، چې زړه مې غواړي.
هومره زما دی، چې زه یې لاره شوی یم.
هومره مې په خوله راځي، چې ورته په خوله له خبرو سپین شوی یم.
هومره یې اورم، چې غوږونه مې ورته تش کړي.

...
څه و، پربړده چې همدا ټکي يې په ځان کې خوندي کړي.
هغه شته، خو چې زه شیان ونه وینم.»

دا ځو کربښي به د وفاسمندر د وروستني پرليکه شوي پيام په ډول دلته راواخلم چې د ۲۰۲۳ کال د جون د شپاړسمي په سهار يې انلاین کړی دی، ګوره نو چې څوک څومره څه ورنه اخیستلای شي:

«هستي؛ ۸میلیارده ارکستر:
مینيِاکادمیسین راته کړل: وېل يې اوري؟
ما وېل: هو اورم، ستا غږ اورم!
وېل يې: زه او ته فقط يو بل اورو؛ خو هستي د ۸میلیارده وګړو د خوږو غږونو سپېڅلي ارکستر دی. او زه او تل فقط خپل او يو بل اورو!
هڅه مو داده، چې يو بل کې، مازې يوه توره نښه پیدا او پلمه کړو او د يو بل فکر ته، احساس او عاطفي ته او معنوي رنګینی ته غله شو!
ټول تلاش مو دادی، چې د يو بل (فکر، احساس او عاطفه، اخلاق او معنوي وده) ور بدله کړو، پخپل رنګ يې کړو!
دې سره د يو بل د (فکر، عاطفي او معنویت او خدا ورکړې آزادی) غله یاستو!
نو سوله به له کومه شي؟ خوښي به له کومه شي؟؟
که موږ ځانته، بل ته، نړی ته، د خدايي مینې له دريځې وګورو، ژوند او سرنوشت به مو يو دم جنتي شي.
ځکه ټول تخلیق- له يوه تور مچه نیولي، بیا تر لوی عالم او دانشمنده- د خدای دی او د خدای په تخلیق کې ذره عيب لټول، خپله لوی عيب دی!
که موږ د زړه په سترګه وګورو، نو بیا ښايي د هېڅ يوه ګريوان څېرې نشي، هېڅ وګړی خفه، او ناښاد ونه اوسي.
بیا به ټوله زمکه يو مخ د ښادو، آبادو او مينه‌ګرو وګړو، يو ستر ګلستان شي.
او دا ښاد او سره پخلا او مهربانه ستر ارکستر به دنیا د معنویت او هوښیارې يوه داسې ستره نغمه کړي، چې بشر په خوب هم نه وي لیدلي.
او دې کار ته يو زړه په کار دی؛ مین زړه!
فقط مینه کولای شي د ښادئ او ژغورني داسې توپان پر ژوند او برخلیک را ګډ کړي.
او دا کار هغه وخت شونی کېږي، چې ځانته او بل ته او ټول مخلوق ته د مینې په سترګه وګورو.
تقدیر مو دادی: بختور مو شه»

پای

www.dawatmedia24.com

****************************************